مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۲/۰۷

# د هیلو سندره

ښکاریږی چی رڼا راځی په کلی د افغان
ختمیږی ژړاکاني

د سولی تراني وا یی کوڅو کی ماشومان
تیارې په ختمیدو دي

*****

ځلوینت کاله ویرونه
د غـم اوږده کلـــونه
تبـاه یی کړل ولسونه

نابوده دی جـګړه شی دُعا کاندی یتیمان
ختمیږی توفانونه

له خوبه را ویښـــیږی نور بچوړی د افغان
ختمیږی ژړاګاني

*****

دردونه بی حسابه
غوښتني بی ځوابه
بهر له هر کتابه

جنګونو رانه و خوړل زلمی زلمی ګلان
ختمیږی توفانونه

را رسی مو غوږو ته د بلال د خولی آذان
تیارې په ختمیدو دي

*****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

دوه ورونه پخلا کيږی
يوبل ته نژدی کيږی
دا کلــی آباديــږی

خو پام کوه افغانه لار کی ناست دي رقيبان
چی بيل کاندی ولسونه

سوځيږی په لمبو کی ستا د سولی دښمنان
بيدار اوسه بيدار

*****

پرديو نه را پردئ شه
ګام واخله ګړندئ شه
يوځل بيا ميرنئ شه

کومک ته دی راځی له هديرو نه شهيدان
تياري په ختميدو دي

دُعا درته کوی د نړی ټول مسلمانان
بيدار اوسه بيدار

فبروری/۵/۲۰۱۹
مرکم ـ تورنتو/ کاناډا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ